**د (PFIZER-BIONTECH COVID-19) واکسین په اړه د واکسین اخیستوونکي او پاملرنه کوونکي او له ۵ کلنو او تر ۱۱ کلنو پورې کسانو کې د ۲۰۱۹کال د کووېډ-۱۹ ویروس ناروغۍ (کووېډ-۱۹) مخنیوي لپاره د -PFIZER BIONTECHکووېډ-۱۹ واکسین د کارونې معلوماتي حقیقت پاڼه**

## له ۵ څخه تر ۱۱ کلنو پورې

ستاسو ماشوم ته د Pfizer-BioNTech کووېډ-۱۹ واکسین وړاندې کېږي تر څو د ۲۰۱۹ کال د کرونا ویروسي ناروغۍ مخنیوی وکړي چې له .SARS-CoV-2 څخه رامنځته شوې ده.

د واکسین معلوماتي حقیقت پاڼه د ترلاسه کوونکو او پاملرنه کووکو لپاره د **Pfizer-BioNTech** کووېډ-۱۹واکسین حقیقت پاڼه لري د یاد واکسین په اړه معلومات پکې شامل دي، چې ۵ کلنو څخه تر لوړ عمره کسانو لپاره کارول کیږي.[1]

د **Pfizer-BioNTech COVID-19** واکسین د **FDA** څخه **EUA** ترلاسه کړی، تر څو له ۵ کلنو څخه تر ۱۱ کاله عمر لرونکو کسانو ته دوه ډوزه لومړنۍ مرحله چمتو کړي.

د **Pfizer-BioNTech COVID-19** واکسین هم د **FDA** څخه **EUA** ترلاسه کړی ترڅو د 5 څخه تر 11 کلونو پورې اشخاصو ته د دریم لومړني لړۍ ډوز چمتو کړي څوک چې ټاکل شوي د معافیت ځانګړي ډولونه ولري.

د واکسین معلوماتي حقیقت پاڼه کې هغه معلومات شامل دي، چې تاسو سره د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسین د ګواښونو او ګټو په اړه پوهېدو کې مرسته کوي

د Pfizer-BioTech COVID-19 واکسین، ستاسو ماشوم ترلاسه کولی شئ ځکه چې اوس مهال د کووېډ-۱۹ ناروغي موجوده ده. که تاسو کومه پوښتنې لرئ، د خپل ماشوم واکسین چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ.

دا حقیقت پاڼه بنایي نوې شوې وي. د وروستۍ حقیقت پاڼې د کتلو لپاره مهرباني وکړئ www.cvdvaccine.com ته لاړ شئ.

### وړاندې له دې چې ستاسو ماشوم واکسین شي، د څه په اړه غواړئ پوه شئ؟

### کووېډ-۱۹ څه شی دی؟

کووېډ- ۱۹ د SARS-CoV-2 ویروس څخه رامنځته شوی دی. دغه ډول کرونا ویروس له دې وړاندې نه و لیدل شوی. تاسو بل کس سره چې دغه ویروس لري، د اړیکي له لارې پر COVID-19 اخته کېږئ. کرونا په لویه کې یوه تنفسي ناروغي ده، چې کولای شي په نورو ارګانونو هم اغیزه وکړي. هغه خلک چې په COVID-19 اخته دي د ډېرو نښو نښانو د درلودو راپور یې ورکړل شوی، چې له معتدلو نښو څخه تر جدي ناروغیو پورې پکې شاملې دي. دغه نښې نښانې کېدای شي له ۲ څخه تر ۱۴ ورځو وروسته له ویروس سره مخامخ شي. په دې کې بنایي لاندې نښې نښانې شتون ولري: تبه یا زکام، ټوخی او ساه لنډي، د بدن د عضلاتو سټړیا او سر درد، تازه په تازه د خوند یا بوی د حس له لاسه ورکول، د ستوني درد، د پزې بهېدل یا بندېدل، التهاب یا کانګې او اسهالات.

[1]حتی که ستاسو ماشوم ۱۲ کلن هم وي تاسو کولی شئ د واکسین دغه معلوماتي حقیقت پاڼه ترلاسه کړئ. هغه ماشومان چې له ۱۱ کالو څخه تر۱۲ کلونو پورې عمر لري په لومړني ډوز کې د دوی د لومړي او دویېم ډوز تر منځ بنایي د هر یو ډوز لپاره (1) د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسین چې ۵ کلنو کسانو ته د کارولو لپاره جواز لري ترلاسه کړئ. د۱۱ کلونو عمر؛ یا COMIRNATY (2) یا د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسین څخه یو د ۱۲ کالو او ډېر عمر لرونکو کسانو ته د کارولو اجازه لري

د EUA په اړه د نورو معلوماتو لپاره د (بېړنۍ کاروني اجازه څه شی ده؟) د دې حقیقت پاڼې په وروستۍ برخه کې وګورئ.

**وړاندې له دې چې تاسو خپل ماشوم ته واکسین وکړئ، د ماشوم واکسین چمتو کوونکي ته باید څه یادونه وکړئ؟**
**واکسین چمتو کوونکي ته د خپل ماشوم د روغتیایي حالت په اړه ووایئ که چېرې:**

- کوم حساسیت لري
- د مایوکارډیټس (د زړه د عضلاتو التهاب) یا پیریکارډیټس (د زړه څخه بهر د استر التهاب) لري
- تبه لري
- د وینې اختلال یا د وینې کمښت لري
- معافیت یې کم شوی یا په داسې درملو روږدی دی چې ستاسو د ماشوم د معافیت سیستم اغېزمنوي
- که امېدواره وي
- که تی ورکوي
- د کووېډ-۱۹ بل واکسین یې کړی وي
- د پیچکارۍ پر مهال کله یې هوښه شوی وي

**دغه واکسین څه ډول ورکول کېږي؟**

د Pfizer-BioNTech COVID-19 Vaccine واکسین به د پیچکارۍ په وسیله ستاسو د ماشوم په عضلاتو کې ورکړل شي.
دا واکسین د دوه ډوز د لړۍ په توګه په دریو اوونیو کې تنظیمېږي. د دریم لومړني لړۍ دوز ممکن لږ تر لږه 28 ورځې وروسته د دوهم ډوز څخه هغه اشخاصو ته توصیه شي چې ځانګړي د معافیت سیستم ولري. دغه واکسین ښایي تول خوندي نه کړي.

**څوک باید واکسین ونه کړي؟**

ستاسو ماشوم باید واکسین نه شي که چېرې:

- د دې واکسین له مخکني ډوز څخه وروسته یې حساسیت لرونکی غبرګون درلود
- د دې واکسین د هر ډول اجزاو پر وړاندې یې شدید حساسیت لرونکی غبرګون درلود

**دا واکسین له کومو عناصرو جوړ وشی؟**

په واکسین کې لاندې عناصر شامل دي: mRNA، لیپیز (4- hydroxybutyl) Azanediyl)bis(hexane-6,1-diyl)bis(2-hexyldecanoate)، 2 [(polyethylene glycol)-2000]-N,N-ditetradecylacetamide , 1,2-Distearoyl-sn- glycero-3-فاسفوچولین، او کولیسترول)، tromethamine، tromethamine hydrochloride، sucrose او سوډیم کلوراېډ.

**ایا واکسین مخکې کارول شوی؟**

په میلیونونو کسانو چې عمرونه یې ۱۲ کاله او یا لوړ دي د ۲۰۲۰ کال د دسمبر میاشتې له ۱۱ نېټې راهیسې د بېړنۍ کاروني (EUA)لاندې د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسین ترلاسه کړی دی. په کلینیکي آزموینه کې نږدې ۳۱۰۰ کسان چې عمرونه یې له ۵ څخه تر ۱۱کلونو پورې دي لږ تر لږه د Pfizer- ډوز ترلاسه کړی. د بایو ټیک کووېډ-۱۹ واکسین په نورو کلینیکي ازموینو کې نږدې ۲۳۰۰۰کسانو چې عمرونه یې ۱۲ کاله او یا هم لوړ دي د دې واکسین لږ تر لږه یو ډوز ترلاسه کړی دی. هغه واکسین چې له ۵ څخه تر ۱۱ کلنو پورې ماشومانو کې د کارولو لپاره اجازه لري، mRNAاو لیپیډونه یکې شامل دي، خو د واکسین په پرتله بېلابېلې غیرې فعالې اجزاوې لري، چې د EUA لاندې د ۱۲ کلنو او ډېر عمر لرونکو خلکو کې کارول شوي او دا په کلینیکي کې څېړل شوي دي، چې د بېلابېلو غیرې فعالو اجزاو کارول واکسین سره په یخچال کې د تودوخې لاندې ثبات کې مرسته کوي او فارمولیشن په اسانۍ سره چمتو کیدای شي، ترڅو له ۵ څخه تر ۱۱ کلنو خلکو ته مناسب ډوزو وړاندې کړي.

**د واکسین ګټې څه دي؟**

دې واکسین ښودلې چې د کووېډ-۱۹ مخنیوی کوي. د کووېډ-۱۹ پر وړاندې د واکسین د خوندیتوب موده اوسمهال څرګنده نه ده.

**د واکسین ګواښونه کوم دي؟**

ډېره لږه شونتیا لیدل کېږي، چې واکسین د شدید حساسیتي غبرګون لامل شي. یو شدید حساسیتي غبرګون معمولاً د واکسین د ډوز له اخیستو وروسته له څو دقیقو څخه تر یوه ساته پورې رامنځته کېږي. په دې اساس، ستاسو د ماشوم د واکسین چمتو کوونکی ښایي ستاسو له ماشوم څخه وغواړي تر څو په هغه ځای کې پاتې شئ چېرې چې ستاسو ماشوم د واکسین له اخیستو وروسته د څارنې په موخه خپل واکسین ترلاسه کړی. د شدید حساسیتي غبرګون په نښو نښانو کې کېدای شي لاندې موارد شامل وي:

- د ساه اخیستنې ستونزه
- د مخ او ستونې پړسوب
- د زړه چټک ټکان
- ستاسو د بدن خارښت
- سرخوږی او کمزوري

ځینو هغو خلکو ته د زړه د عضلاتو سوزش او له زړه څخه بهر د استر التهاب پیدا شوی چې واکسین یې ترلاسه کړی. په ډېری دغو کسانو کې د واکسین د دویم ډوز له اخیستو وروسته په څو ورځو کې دغه نښې نښانې پیل شوې. د یادو ستونزو رامنځته کېدو سلنه ډېره کمه ده. که چېرې د واکسین له ترلاسه کولو وروسته ستاسو ماشوم په خپل ځان کې لاندې نښې وینئ نو په بېړنۍ توګه د روغتیایي پاملرنې غوښتنه وکړئ:

- د سنیې درد
- ساه لنډي
- د زړه چټک ټکان، درزېدل او یا هم د زړه د ټکان احساس

**په هغو جانبي عوارضو کې چې له واکسین کولو سره یې راپور ورکړل شوی لاندې موارد پکې شامل دي:**

- شدید حساسیتي غبرګونونه
- غیر شدید حساسیتي غبرګونونه لکه خارښ یا د مخ پړسوب
- مایوکارډیټس (د زړه د عضلاتو التهاب
- له زړه څخه بهر د استر التهاب
- د پیچکارۍ په ځای کې درد
- ستړیا
- سردرد
- د عضلاتو درد
- ساړه
- د بندونو درد
- تبه
- د پیچکارۍ د ځای پړسوب
- د پیچکارۍ د ځای سوروالی
- ټوخی
- ښه احساس نه درلودل
- د لمف نوډونو پړسوب (لیمفاډینوپیتي)
- د اشتها کموالی
- اسهال
- کانګې
- د لاس درد
- د واکسین له پیچکارۍ سره بې هوښه کېدل

پورته موارد ښايي د واکسين ټول احتمالي جانبي عوارض نه وي، جدي او غير متوقع جانبي عوارض هم ښايي رامنځته شي. د واکسين احتمالي جانبي عوارض لاهم په کلينيکي آزموينو کې څېړل کېږي.

### د جانبي اغېزو پر وړاندې بايد څه وکړم؟

که چېرې ستاسو ماشوم شديد حساسيتي غبرګون لرئ، ۱-۱-۹ ته زنګ ووهئ او يا هم نږدې روغتون ته ولاړ شئ.

که چېرې ستاسو ماشوم کومه جانبي ستونزه لري، چې ستاسو ماشوم په تکليفوي او له منځه نه ځي، نو خپل واکسين چمتو کوونکي او يا هم روغتيا پال سره اړيکه ونيسئ.

د واکسين د جانبي عوارضو راپور FDA/CDC د واکسين د منفي پېښو راپور ورکولو سيستم **(VAERS)** ته ورکړئ. 1-800-822-7967 د (VAERS) وړيا شمېره ده او يا هم په انلاين توګه https://vaers.hhs.gov/reportevent.html ته راپور ورکړئ. مهرباني وکړئ د راپور فورمه د # ۱۸ شمېرې بکس په لومړۍ کرښه کې د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسين په (EUA) کې شامل کړئ.

پر دې سربېره تاسو کولای شئ د جانبي عوارضو راپور Pfizer Inc ته د اړيکو دلاندې معلوماتو په وسيله ورکړئ:

| د ټيلفون شمېره | د فاکس شمېره | ويب پاڼه |
| --- | --- | --- |
| 1-800-438-1985 | 1-866-635-8337 | www.pfizersafetyreporting.com |

تاسو ته ښايي په v-safe کې هم د نوم ليکنې واک درکړل شي. v-safe يوه نوې داوطلبانه د زيرک ټيلفون وسيله ده، چې د متن د پيغام لېږدولو او ويب سروې ترسره کوي، تر څو د هغو کسانو سره وګوري چې واکسين شوي او د کوويډ-۱۹ له واکسين وروسته يې احتمالي ضمني اغېزې معلومې کړي.

V-safe داسې پوښتنې کوي، چې له CDC سره د کرونا واکسينونو د خونديتوب څارنه کې مرسته کوي. V-safe د اړتيا پر مهال د واکسين د دويم ډوز يادونه هم برابروي او د CDC له لوري په ژوندۍ بڼه ټيلفون څارل کېږي. که چېرې کډونوال د کوويډ-۱۹د واکسين له کولو وروسته د پام وړ روغتيايي عوارضو راپور ورکړي. د نومليکنې څرنګوالي په اړه د نورو معلوماتو لپاره. www.cdc.gov/vsafe وګورئ.

### څه به وشي که چېرې زه خپل ماشوم ته د PFIZER-BIONTECH COVID-19 VACCINE واکسين نه کولو پرېکړه وکړم؟

د بېړنۍ کاروني تر اجازې لاندې دا ستاسو خپله خوښه ده، چې واکسين کوئ که نه. که چېرې يې تاسو خپل ماشوم ته د نه ورکولو پرېکړه وکړئ، دا به ستاسو د ماشوم معياري روغتيايي پاملرنه کې بدلون رامنځته نه کړي.

### ايا د کوويډ-۱۹ د مخنيوي لپاره د پي فزر بيونټک واکسين سربېره بل انتخاب شته؟

له ۵ کلنو څخه تر ۱۱ کلنو ماشومانو د بېړنۍ کاروني تر اجازې لاندې د کوويډ-۱۹ نور تاييد شوي کوويډ-۱۹ واکسينونه نشته.

### آيا زما ماشوم کولای شي له نورو واکسينونو سره هممهاله د پي فزر بيونټيک واکسين هم ترلاسه کړم؟

په ورته وخت کې د نورو واکسينونو په څېر FDA ته د پي فزر بيونټېک واکسين د تنظيمولو په اړه لا هم معلومات نه دي سپارل شوي. که چېرې تاسو له نورو واکسينونو سره يو ځای خپل ماشوم ته د پي فزر بوتيک واکسين ورکولو په اړه فکر کوئ، د خپل ماشوم روغتيا پال سره د خپلې ټاکنې په اړه خبرې وکړئ.

### ولې که زما د ماشوم معافيت کم وي؟

که ستاسو د ماشوم معافيت کمزورۍ وي، تاسو ته ممکن دا اختيار درکړل شي چې ستاسو ماشوم د واکسين دريم ډوز ترلاسه کړي. دريم ډوز ممکن لاهم د COVID-19 لپاره بشپړ معافيت چمتو نه کړي په هغه خلکو کې چې معافيت کم وي

چې په داسې حالت کې باید تاسو خپل ماشوم دې ته وهڅوی چې خپل فزیکي احتیاط ته دوام ورکړئ ترڅو په Covid-19 له اخته کیدو څخه وژغورل شي. برسېره پر دې، ستاسو ماشوم ته نږدې خلک باید هم واکسین شي.

**د امیدوارۍ او تي ورکولو په اړه به څه کوو؟**

که چېرې ستاسو ماشوم حامله یا تی ورکوونکې یاست، خپل انتخاب مو له خپل روغتیا چمتوو کوونکي سره شریک کړئ.

**آیا واکسین به زما ماشوم پر کرونا اخته کړي؟**

نه، واکسین **SARS-CoV-2** نه لري او نه شي کولای ستاسو  ماشوم په کووېډ-۱۹ اخته کړي.

**د واکسین کار مو وساتئ**

کله چې ستاسو ماشوم لومړی ډوز ترلاسه کړی، تاسو ته به د واکسین کارت درکړل شي او تاسو ته به وښيي چې ماشوم مو دویم ډوز واکسین بیا کله واخلي. په یاد ولرئ کله چې ماشوم بیا  واکسین کولو لپاره راولئ د واکسین کارت یې له ځان سره راوړئ.

**نور معلومات**

که چېرې تاسو کومه پوښتنې لرئ؛ ویب پاڼې ته لاړ شئ یا هم د ټیلفون لاندې شمېرې ته زنګ ووهئ. وروستیو حقیقت پاڼو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ لاندې QR کوډ سکین کړئ.

| نړیوال ویب سایټ | ټیلفون شمېره |
|---|---|
| www.cvdvaccine.com | 1-877-829-2619<br>(1-877-VAX-CO19) |

**څنګه کولای شم نور هم زده کړم؟**

- د واکسین چمتو کوونکي څخه پوښتنه وکړئ
- CDC څخه لیدنه وکړئ https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/index.html
- FDA څخه لیدنه وکړئ https://www.fda.gov/emergency-preparedness-and-response/mcm-legal-regulatory-and-policy-framework/emergency-use-authorization
- د خپل ریاست او یا هم سیمه ییزې عامې روغتیا ریاست سره اړیکه ونیسئ

**زما د ماشوم د واکسین معلومات چېرته ثبتېږي؟**

د واکسین چمتو کوونکی ښايي ستاسو د ماشوم د و اکسین معلومات ستاسو په ايالت، سيمه ييزه قضايي حوزه کي د معافيت د معلوماتو سيستم (IIS) يا هم بل تاکل شوي سيستم کې شامل کړي. دا به تضمين وکړي چې ستاسو ماشوم د دويم ډوز واکسين ترلاسه کولو پر مهال به ماشوم يو ډول واکسين ترلاسه کړي. د (IIS) په اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره لاندې لينک وګورئ: .https://www.cdc.gov/vaccines/programs/iis/about.html

**آيا زه د کووېډ-۱۹ واکسين د ترلاسه کولو لپاره بايد اداري فيس ورکړم؟**

نه، په دې وخت کې د واکسين چمتو کوونکی نه شي کولای د واکسين د ډوز درکولو پر مهال له تاسو پيسې واخلي او يا هم له خپل جيب څخه کوم اداري فيس ورکړئ، که چېرې يوازې د کووېډ-۱۹ واکسين ترلاسه کوئ. په هر صورت، د واکسين چمتو کوونکی ښايي د يوه پروګرام يا پلان څخه مناسب لګښت وغواړي، چې د واکسين اخيستونکي لپاره د کووېډ-۱۹ واکسين اداري فيس رانغاړي. (لکه شخصي بيمه، درمل، ميډيکاډ او د کووېډ-۱۹ HRSA غير بيمه شوی پروګرام د غير بيمه اخيستونکي لپاره).

**د شکمنې درغلی د قضيې راپور چېرته ورکړم؟**

هغه خلک چې د کووېډ-۱۹ د CDC واکسين کولو پروګرام له اړتيا څخه د هر ډول احتمالي سرغړونې څخه خبر وي، هڅول کېږي، چې د متحدو ايالتونو د روغتيا او بشري خدمتونو څانګې د عمومي مفتش دفتر ته په لاندې ادرس راپور ورکړي: 1-800-HHS-TIPS or TIPS.HHS.GOV.

**د ټپونو د جبران د مخنيوي پروګرام پر وړاندې اقدامات څه دي؟**

د ټپونو د جبران د مخنيوي پروګرام (CICP) يوه فدرالي برنامه ده، چې ښايي د دې واکسين په کډون د ځينو درملو يا واکسينونو له لوري زيانمنو شوو خلکو ته د روغتيايي پاملرنې او نورو ځانګړو لګښتونو د ورکړې برخه کې مرسته وکړي. (CICP) ته بايد د واکسين د ترلاسه کولو نېټې څخه وروسته د يو کال په اوږدو کې د زيان ادعا وروړسپارل شي. د دغه پروګرام په اړه د نورو معلوماتو لپاره لاندې لينک وګورئ /www.hrsa.gov/cicp

او يا هم دې شمېرې سره اړيکه ونيسئ: 1-855-266-2427

**د بېړنی کارونې اجازه (EUA) څه شی دی؟**

د متحدو ايالتونو د FDA د کووېډ-۱۹ پې فزر بيوټيک واکسين د بېړنۍ کارونې EUA په نامه د بېړنې لاسرسي تر مېکانېزم لاندې چمتو کړی، چې د روغتيا و بشري خدمتونو د سکرتريت (HHS) له لوري يې ملاتړ کېږي او داسې شرايط شتون لري، تر څو د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال د درملو او بيولوژيکي محصولاتو بېړنۍ کارونه توجيه کړي.

د پې فزر بيوټيک واکسين ته FDA د تاييد شوي يا پاک شوي توليد په څېر بيا ځلي کتنه نه ده کړې. FDA ښايي د ځينو معيارونو له بشپړولو وروسته يوازې د بېړنۍ کارونې اجازه يا (EUA) صادر کړي، چې بشپړ، تاييد شوي او شته بدلونه شتون نه لري. پر دې سربېره د FDA پرېکړه د شته ساينسي ټوليزو شواهدو پر بنسټ ده، چې څرګندوي ښايي دغه محصول د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال د کووېډ-۱۹ مخنيوي لپاره اغېزناک وي او دا چې د محصول پېژندل شوې او احتمالي ګټې د پېژندل شوو احتمالي ګواښونو څخه ډېرې دي. دا ټول معيارونه بايد پوره شي، تر څو د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال محصول ته د کارولو اجازه ورکړي. کووېډ-۱۹ پې فزر بيوټيک واکسين لپاره EUAد کووېډ-۱۹ د EUA اعلاميې د مودې لپاره د دې محصولاتو بېړنۍ کارونه توجيه کوي، پرته له دې چې لغوه شي (له دې وروسته ښايي محصولات نور ونه کارول شي).

Manufactured by
Pfizer Inc., New York, NY 10017

Manufactured for
BioNTech Manufacturing GmbH An der Goldgrube 12
55131 Mainz, Germany

LAB-1486- 2.1

بیاکتنه:۳ جنوري ۲۰۲۲

سکین یېکړئ، څو ترلاسه کړئ، چې دغه حقیقت پاڼه واکسین اخیستوونکیته د برېښنايي روغتیايي ریکارډونو او معافیت معلوماتي سیستمونو لپاره چمتو شوې وه.

GDTI: 0886983000424

بیاکتنه:۳ جنوري ۲۰۲۲